PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۲۲۴

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

دوولسم کال - دویمه دوره، ۱۲۲۴ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۹۸ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د سلواغې ۲۹ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۳ هـ ق ربیع الاول ۲۶ مه د ۲۰۱۲ د فبروري ۱۸ مه

یوه جعلي سناتور د کندهار لوړپوړي چارواکي وغولول

مشرانو جرګه وایي، د حکومت مهمو او حساسو ادارو ته د مشکوکو خلکوور تګ او له دولتي چارواکو سره د هغو لیده کاته کولی شي، زیات خطرونه رامنځ ته کړي.

د مشرانو جرګې لومړي مرستیال محمدعلم ایزدیار وویل: په دې وروستیو کې د اصف سرحدي په نامه یو تن ځان د مشرانو جرګې غړی ښودلی او د کندهار ولایت له لوړو چارواکو سره یې لیدلې دي.

د راپورونو له مخې اصف نومي ځان د مشرانو جرګې غړی ښودلی و، ایزد یار زیاته کړه، افغان امنیتي ځواکونه ۳مخ

ایا ولسي جرګه به د ځل رد شویو نوماند وزیرانو ته رایه ورکړي؟



د ولسي جرګې ځینې غړي وایي، تر هغه چې د جرګې د کور نیو دندو اصول تعدیل نه شي، جرګه هغو کاندیدو وزیرانو ته رایه نه شي ورکولی، چې یو ځل یې د همدغو وزارتونو لپاره رد کړي وي.

خو د جرګې یو شمېر غړي او د چارو پوهان وایي، له دې امله، چې کاندید وزیران د جرګې په تېره دوره کې رد شوي، اوسنی ولسي جرګه کولی شي، چې د تېرې دورې رد شویو کاندیدو وزیرانو ته رایه ورکړي.

دا څرګندونې په داسې حال کې دي، چې تېره اونۍ ولسمشر حامد کرزي نهه کاندید وزیران د باور رایې د ترلاسه کولو په موخه ولسي جرګې ته ور وپېژندل، خو په دې ډله کې اوه یې هغه کسان دي، چې د ولسي جرګې په تېره دوره کې د کاندید وزیرانو په توګه جرګې ته ور پېژندل شوي وو، خو د باور رایه یې ه وه ترلاسه کړې.

له یادو نهو کسانو څخه دا وبو او بر ښبنا وزارت لپاره محمد اسماعیل خان، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت لپاره انجنیر امیرزی سنګین، د عامې روغتیا لپاره ډاکټر ثریا دلیل، د ښځو چارو وزارت لپاره حسن بانو غضنفر، د لوړو زده کړو وزارت لپاره ډاکټر عبیدالله عبید، د کلیو پراختیا وزارت ته ویس احمد برمک او د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت لپاره داوود علي نجفي د کاندید وزیرانو په توګه معرفي ۳مخ

وسلوالو طالبانو له افغان دولت سره خبرې اترې رد او بې بنسټه وبللې

امریکایي وایي چې طالبانو سره یې خبرې اترې په لومړیو پړاوونو کې دي او په دې خبرو کې د افغان حکومت د ګډ بدلو هرکلی یې کړی دی.

لوبدیځو رسنیو د ولسمشر حامد کرزي له خولې لیکلي، چې د افغانستان حکومت هم د قطر په خبرو اترو کې ورګډ شوی دی.

د امریکا د دفاع وزیر لیون پنیټا، په جرمني کې د دغه هېواد له دفاع وزیر سره تر لیدنې وروسته، په یوه خبري غونډه کې وویل چې دوی د افغان ولسمشر د دې خبرې هرکلی کوي.

هغه زیاته کړه: ((د دې پر ځای چې په کوم خبرې کوو، د افغان حکومت سره یو ځای به دا خبرې ډهرې ګټورې وي.))

پنیټا ویلي، لکه چې د ولسمشر کرزي له خبرو څرګنده شوې، افغان حکومت اوس په دې پروسه کې ورګډ شوی او دا د سولې د پروسې پر په وینا، ښه اقدام دی.



بل خوا وسلوالو طالبانو یو ځل بیا له افغان حکومت سره هر ډول خبرې اترې رد کړې او په دې اړه یې خپاره شوي خبرونه بې بنسټه ګڼلي دي.

طالب ویاند ذبیح الله مجاهد په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې طالبان به هېڅکله بې واکې اداري سره په هېڅ ځای کې خبرې ونه کړي.

آیا ایران و پاکستان شرکای مطمینی برای افغانستان خواهند بود؟ ۴

نړیواله ټولنه د افغانستان د نشه یي توکو په مخنیوي کې ناکامه شوه!

د ملګرو ملتو سرمنشي بانکي مون ویلي چې نړیواله ټولنه د افغانستان، چې تېر کال په کې د کوکنارو تولید تر یو شپېته فیصدو پورې زیات شوی، د مخدرو موادو په مخنیوي کې پاتې راغلې ده.

سرمنشي چې پرون په ویانا کې د افغانستان پر مخدرو موادو نړیوال کنفرانس ته وینا کوله، وویل: له افغانستان څخه د دوه ملیارده او څلور سوه ملیون ډالرو په ارزښت مخدر مواد بهر ته صادرېږي چې دا د افغانستان د ناخالص کورنۍ تولید په سلو کې پنځلس جوړوي.

کنفرانس ته له مخدرو موادو سره د مبارزې افغان وزیر ضرار احمد مقبل وویل، د کوکنارو کرونده او د تریاکو تولید یوازې هغه وخت له منځه تللی شي چې د افغانستان امنیتي حالات ښه شي.



دا کنفرانس په داسې حال کې جوړ شوی چې د افغانستان ولسمشر حامد کرزی اسلام اباد ته تللی او د افغانستان، پاکستان او ایران د ولسمشرانو په درې اړخیزه سرمشریزه کې یې ګډون کړی دی.

د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر الن ژوپې د خپل هېواد له لوري او د روسیې د باندنیو چارو وزیر سرګي لاوروف د کنفرانس مشري کوي.

په دې کنفرانس کې، چې د اتریش په مرکز ویانا کې جوړېږي او په افغانستان کې د هیروینو او تریاکو پر جوړېدو او له دې هیواده بهر ته د هغو پر قاچاق خبرې کېږي، د پنځوسو هیوادونو او د لسګونو موسسو استازي ګډون کوي.

د افغانستان د مخدرو موادو په اړه تر دې مخکې په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۶ کلونو کې دوه کنفرانسونه جوړ شوي وو. خو دا کنفرانس په داسې وخت کې جوړېږي چې له افغانستانه ورکړای شوي راپورونه وایي چې د تریاکو د کنټرول او د هغو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې لږ پرمختګ شوی دی.

د فرانسې د بهرنیو چارو وزارت تېره اونۍ وویل، د افغانستان د مخدرو موادو په تېرو کنفرانسونو کې په دې ټینګار شوی و، چې تریاک او نور مخدر مواد د افغانستان د ناامنۍ یو عامل دی، خو په عین حال کې یې ویلي وو، چې له دې پدیدې سره مبارزه د هغو ټولو هیوادونو ګډه مسوولیت دی چې مخدرو مواد په کې جوړېږي، استعمالېږي او یا ترانزیت کېږي.

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

د سیمې مشران د سیمې په اړه څه فکر کوي؟

د افغانستان، ایران او پاکستان مشران یو ځل بیا پرون په کوربه هېواد پاکستان کې سره راټول شول، ترڅو د افغانستان او سیمې د حالاتو په اړه خبرې اترې سره وکړي. د رسنیو په حواله داسې ویل کېږي، چې په دې درې اړخیزه سرمشریزه کې د سیمې پر عمومي حالاتو، سیمه ییز امنیت، له طالبانو سره پر خبرو اترو او د ترهګرۍ پرضد د جګړې په شان موضوعاتو ترڅنګ پر یو لړ نورو مهمو او اقتصادي مسایلو هم خبرې وشوې.

خو له دې سره په څنګ کې داسې راپورونه هم شته، چې هڅه روانه ده ایران هم په هغه کمېسیون کې شامل شي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په افغانستان کې د سولې او پخلاینې لپاره جوړ شوی دی. همداشان ویل کېږي چې په دې ناسته کې د سیمو د هر اړخیزو او ترینګلو حالاتو په اړه مهم بحثونه ترسره شوي او ان د ترلو دروازو تر شا هم درې واړه مشران سره کښېناستلي او خبرې یې سره کړي دي. دا ناسته تر ډېره د افغانستان او سیمې د حالاتو په ټېره بیا په افغانستان کې د لس کلنې جګړې په اړه وه او پر همدې موضوع ډېر فوکس هم شوی دی. په دې ترڅ کې افغان ولسمشر کرزي له خپل ایراني او پاکستاني سیال څخه غوښتنه وکړه، چې نور د خبرو او لفاظۍ پر ځای عمل ته مخه کړي او له افغانستان سره رښتونې او د عمل په جامه پسوللې همکاري وکړي. په دې ناسته کې د پاکستان ولسمشر اصف علي زرداري وویل هېواد به یې هر هغه څه وکړي چې د افغانانو په مشرۍ د سولې د پروسې د ملاتړ لپاره یې د کابل حکومت ترې وغواړي او په دې توګه یې د هر ډول همکارۍ ټټر وواهه خو بلخوا بیا د ایران ولسمشر احمدي نژاد بیا د افغانستان اوسنیو حالاتو ته په پام او د بهرنیانو له شتون څخه په اندېښنه کې دی او په افغانستان کې د سولې خبرو ته هم یو څه د شک په سترګه ګوري، خو په یاده ناسته کې یې د افغانستان د سولې له بهیر سره د ملاتړ ډاډ ورکړ. د

درو هیوادونو د مشرانو د غونډې په پای کې په یوه ګډه اعلامیه کې یادونه کړې، د دغو هیوادونو مځکنۍ بشپړتیا، خپلواکي، ملي یووالي او ملي حاکمیت باید د ملګرملتو له منشور سره سم تضمین شي. دوی ټینګار کړی چې اجازه به نه ورکوي چې خاورې یې د یو بل پرضد استعمال شي. په دې توګه که چېرې دا درې واړه هېوادونه د خپلو ګټو د خوندي ساتلو لپاره یو له بل سره د رښتونې همکارۍ لاس ورکړي او یو بل ته له ټګۍ او برګۍ لاس پر سر شي، نو لرې نه ده، چې سیمه د ثبات خوا ته لاړه شي او د لوړیدې او ختیځ لپاره هم د پراخې پوځي مداخلې زمینې راکمې کړي. ځکه تر هغو چې د سیمې هېوادونه (افغانستان، پاکستان او ایران) په خپل منځ کې خورا ستونزې ولري، نو دوی به څنګه وکولی شي، چې د نړیوالو او لویو ستونزو د حل لپاره اقدام وکړي، یانې هېڅ بهرنی هېواد د یوه هېواد کورنۍ ستونزې په سمه توګه درک کولی او حلولی نه شي، نو د دې لپاره چې سیمه د ثبات او هر اړخیز پرمختګ په لور ګام واخلي او له نړیوالو سره د نړیوالو ډیپلوماتیکو اصولو له لارې حل لارې او تفاهم ته ورسېږي، نو لومړی باید په خپلو کې سره متحد شي، په ټولو چارو کې یو بل ته ژمن او رښتوني و اوسي او په دې توګه د سیمې د هر اړخیز ثبات لپاره کار وکړي، نه د سیمې د ورانۍ او هر اړخیزې بې ثباتۍ لپاره.

ریاستی یا صدارتی؟

یک بررسی مقایسوی

قسمت: سوم

نگارنده: م. دکتراندس نبی هیکل

-مخالفت مستعمره های قدیم با ایجاد یک حکومت ملی متمرکز در کنوانسیون قانون اساسی فیلادلفیا در سال ۱۷۸۷ که قانون اساسی امریکا را تسوید کرد و هنگام بحث تصویب قانون اساسی نشان داده شد. موضعگیری "ناسیونالیستان" که از تصویب قانون اساسی حمایت می کردند، در فدرالیست پیپرز(Federalist Papers) بیان شده بود. فدرالیست پیپرز به وسیلۀ الکساند هامیلتون، جیمز مدیسن و جان جی تهیه شده بود و در بین سال های ۱۷۸۷ و ۱۷۸۹ منتشر گردید. آنها بر اهمیت یک حکومت ملی نیرومند با حفظ آزادی های ایالت ها و افراد تاکید داشتند. پروسۀ مشابهی در جرمنی نیز اتفاق افتاد.

-عامل دومی که تشکیل فدریشن را موجب گردیده، موجودیت تهدید خارجی یا تمایل دولت های کوچک آسیب پذیر از لحاظ استراتیژیک برای ایفای نقش موثرتر در امور بین المللی بوده است. اتحادیۀ اروپا یک مثال عمدۀ این مورد است.

-ساحۀ جغرافیایی به حیث عامل سومی شمرده شده است. تصادفی نیست که بسیاری از کشورهای بزرگ از لحاظ جغرافیایی نظام قدرال را برگزیده اند. امریکا، کانادا(۱۸۶۷)، برازیل(۱۸۹۱)، استرالیا (۱۹۰۱)، مکسیکو (۱۹۱۷) و هند (۱۹۴۷) مثال های این حقیقت اند. کشورهای بزرگ از لحاظ ارضی اغلب از لحاظ فرهنگی متنوع و دارای رسوم نیرومند منطقه یی می باشند که فشار نیرومند را برای غیر متمرکز بودن اعمال می نماید. گونه یی از اتنوسینتریزم در اساس این تمایلات قرار دارد.

-چهارمین عامل تشویق کننده برای انتخاب نظام فدرال، تنوع فرهنگی و اتنیکی می باشد. "فدرالیزم در واقعیت امر پاسخی است به انقسام اجتماعی و گوناگونی. ده ایالت کانادا به طور مثال، نه تنها بازتاب دهندۀ عنعنه های تاریخی منطقه یی می باشند، بلکه اختلافات زبانی و فرهنگی میان انگلیسی-زبانان و فرانسوی-زبانان را نیز، منعکس می سازد (Andrew Heywood ۲۰۰۷:۱۶۸).

مهمترین مسأله، ارادۀ جمعیت ها و چگونگی درک آنان از گوناگونی های فرهنگی و اتنیکی می باشد که در موثریت و کارآیی هر چهارعامل دارای اهمیت اند. این مسأله تاحدی مجزا از موثریت وکارآیی نظام می باشد، زیرا نظام ها می توانند، نتیجۀ مصلحت و سازش باشند یا نباشند، مگر بیکاره و فاسد و یا بر عکس آن موثر و کارآ باشند. پاکستان را می توان به حیث مثال فرض نمود. به همین منوال، نظام های متمرکز و غیر متمرکز می توانند، بیکاره و فاسد باشند.

مشخصه های نظام ها برای ما مسایل بیشتری را روشن خواهد کرد؛ زیرا نظام های سیاسی به هدف خدمتگاری و تأمین پنج اصل: امنیت، نظم عامه، آزادی، عدالت و رفاه ملی ایجاد شده اند. اما نظام ها آنگونه یی که از حقایق یادشده در بالا آشکار می گردد، با حفظ دو مسأله وحدت ملی و خود ارادیت ملی، تشکیل می گردند. همین دو مسأله (وحدت ملی و حق خود ارادیت) اساس بحث ها پیرامون تشکیل دولت ها را تشکیل می دهد. بدین ترتیب، بدون شک مردم حق دارند، نظام سیاسی خود را برگزینند، اما کارآیی آن نظام را نمی توانند تأمین نمایند.

مسألۀ خود ارادیت ملی در حقیقت امر، با انتخاب سرزمین مشترک در طول تاریخ و رشد مشترکات زیستی از لحاظ روابط بین المللی حل می گردد. در حالی که حق خودارادیت ملی با استقلال سیاسی یک جمعیت سیاسی در قلمرو معین و قانون اساسی مستقل، تأمین می گردد. حق خود ارادیت ملی از نگاه داخلی لازمه های بیشتری را نیاز دارد. تنها متمرکز بودن و غیر متمرکز بودن نظام سیاسی یا به عبارت دیگر، نوع یونیتار یا فدرال آنرا حل نمی نماید. متمرکز بودن یا غیر متمرکز بودن برای تأمین حق خودارادیت ملی شرایط ضروری است، نه شرایط بسنده. این مسأله سوال عمدۀ ارادۀ ملی، منافع ملی یاعامه را در برابر ما قرار می دهد. برای اینکه در بحث جاری باقی بمانیم، بر مشخصه های نظام فدرال مکث می نماییم.

مشخصه های نظام فدرال:

برخی از مشخصاتی که در همه نظام های فدرال مشترک اند، عبارت اند از:

-دو سطح نسبتاً خود مختار حکومت: سطح فدرال و منطقه یی (حکومت های ایالتی) دارای صلاحیت ها و اختیارات معین اند، مانند: اندازه یی از اختیارات تقنینی و اجرایی و درجه یی از استقلال مالی. در جرمنی و اطریش یک سیستم " اداری" فدرال فعال است که در آن حکومت فدرال عمده ترین مرکز پالیسی سازی و حکومت های ایالتی مسوولیت انطباقی پالیسی ها را دارا اند.

– **قانون اساسی نوشته شده:** مسوولیت ها و قدرت هر یکی از سطوح حکومتی در یک قانون اساسی کودیفاید یا نوشته شده تعریف می شوند. رابطه میان حکومت مرکزی و حاشیوی (فدرال و ایالتی) بر اساس چهارچوب قانونی تنظیم می گردد. مثلاً هیچ یکی از طرفین نمی توانند، به صورت یکجانبه قانون اساسی را تعدیل نمایند (Andrew Heywood ۲۰۰۷:۱۶۹).

-حل اختلافات در رابطه با قانون اساسی توسط محکمۀ عالی صورت می گیرد.

– **رابطۀ نهادها:** پارلمان دو اتاقه موجب می گردد، صدا های مختلف در پالیسی سازی بازتاب یابند. مجلس اعیان از منافع ایالت ها نماینده گی می نماید.

حال مدل های نظام های فدرال و یونیتاررا به صورت مختصر مقایسه می نماییم.

منبع: (Heywood, Andrew ۲۰۰۷:۱۶۶،۱۷۱)

تاریخ تشکیل فدراسیون ها نشان می دهد که نظام فدرال راه حل مصلحت گرایانه است، برای آنانی که از یکسو می خواهند، گوناگونی های اتنیکی و زبانی خود را حفظ نمایند و از سوی دیگر، به این یا آن دلیل نمی خواهند، در مقام یک دولت مستقل قرار گیرند. حفظ و رشد گوناگونی های اتنیکی از یکسو گویای اتنوسینتریزم است و از سوی دیگر می تواند، به وجه مشابه در فضای گوناگونی اتنیکی و فرهنگی تحقق یابد. هراس از امتزاج یا تداخل فرهنگی در جهان کنونی تنها یک راه حل دارد و آن عبارت است، از پذیرش گوناگونی و برخورد فارغ از تعصب به فرهنگ ها و ساختارهای اتنیکی. یک نگاه گذرا به ساختار احزاب سیاسی این مسأله را روشنی بیشتر می بخشد و از سوی دیگر، این مسأله به ساختار احزاب سیاسی و تمایلات آن ارتباط مستحکم دارد. تعدادی از احزاب در کشورما بر تمایلات گروپی نیرومند بنا یافته است که بازتاب دهندۀ ساختارهای اتنیکی، مذهبی و زبانی اند.

تعدد احزاب را که مبین گوناگونی درتفکر سیاسی می باشد، از تعدد احزاب که مبین دسته بندی‌های قومی می باشد، باید تمیز کرد. دومی خصیصۀ مشترک ملی را که مرزهای قومی، زبانی و مذهبی و ... را عبور می‌نماید، نادیده می‌گیرد. به‌گونۀ مثال چند مشخصۀ مشترکی را که مرزهای فراگیر یا ملی دارند، نام می‌بریم: دین مشترک، زبان مشترک، سرزمین مشترک، هویت ملی مشترک، فرهنگ مشترک ملی، افتخارات مشترک (M.N. Haikal ۱۹۸۸:۱۱۷).

ادامه دارد



ایا ولسي جرګه به داځل رد...

شوي او هغه کسان دي، چې په تېره دوره کې د همدغو وزراتو نو لپاره کاندید شوي وو، خو د باور رایه یې تر لاسه نه کړه.

په ولسي جرګه کې د دایکنډي استازي اسدالله سعادتي پرون وویل، چې د ولسي جرګې له لوري د رد شویو کسانو دویم ځل معرفي کېدل د جرګې د داخلي دندو د اصولو خلاف دي.

د ولسي جرګې د داخلي دندو اصولو په ۷۶ مه ماده کې راغلي: ((وړاندیز شوی وزیر یا د اساسي قانون د ۶۴ مې مادې په ۱۱ مه او ۱۲ مه فقره کې مندرج ذوات، که له ولسي جرګې څخه د باور رایه ترلاسه نه کړي، په عین پوست کې د دویم ځل لپاره نه شي معرفي کېدای.))

سعادتي وایي، ولسي جرګه باید د کورنیو دندو په اصولو کې بدلون راولي او وروسته تر هغه یادو کاندیدوزیرانو ته رایه ورکړي. هغه زیاته کړه: ((اوس نو تصمیم زمونږ په لاس کې دی، چې دغه کسان منو او که نه، په کورنیو دندو کې بدلون راولو او که نه؟)) په ولسي جرګه کې د کندهار استازې شکیبا هاشمي هم وایي، چې لومړی باید د ولسي جرګې د کورنیو دندو په اصولو کې بدلون راوستل شي او وروسته یادو کسانو ته رایه ورکړل شي.

هاشمي زیاته کړه، چې حکومت له یادې ستونزې د مخنیوي په موخه کولی شول، چې نور کسان یې معرفي کړي وای.

هغې زیاته کړه: ((مونږ تر دوی ډېر ښه او پوه کدرونه لرو، چې باید معرفي شوي وای.))

د هاشمي په وینا، ولسي جرګه باید معامله ونه کړي او له اصولو سره سم په کار پوه او مسلکي کسانو ته رایه ورکړي.

خو په دغې جرګه کې د بلخ استازي او نایب منشي احمد فرهاد عظیمي وایي، چې ولسي جرګې ته دیادو ۷ کاندیدوزیرانو معرفي کېدل هېڅ قانوني ستونزه نه لري.

دی وایي، چې یادکسان د ولسي جرګې د پنځلسمې تقنیني دورې له خوا رد شوي او کېدای شي، چې اوسنۍ دورې ته بیا د کاندیدوزیر په توګه ور وپېژندل شي او جرګه د رد یا تایید رایه ورکړي.

عظیمي زیاتوي: ((په اوسنۍ ولسي جرګه کې دوه ثلثه کسان نوي راغلي، باید چې خپل د خوښې کاندیدوزیر ته رایه ورکړي، دلته هېڅ قانوني ستونزه نشته او حکومت هم همدغه استدلال کوي.)) په ولسي جرګه کې د خوست استازی میربت خان منګل هم د عظیمي خبرې تاییدوي.

هغه وایي، چې هر څوک د کار کولو حق لري او ولسي جرګه باید له چا څخه دغه حق وانه خلي. ده، چې په تېره دوره کې یې د مشرانو جرګې غړیتوب درلود، زیاته کړه: ((مونږ خو دغه کسان نه دي رد کړي، دغه کسان خو تېرې ولسي جرګې رد کړي، مونږ باید رایه ورکړو.)) د حقوقي چارو پوهان هم وایي، چې اوسنۍ ولسي جرګه کولی شي، چې د دې جرګې د تېرې دورې له خوا رد شویو کاندیدوزیرانو ته رایه ورکړي. د حقوقي چارو پوه عبدالستار سعادت وایي، چې د ولسي جرګې د کورنیو دندو اصول یوازې د جرګې په کورنۍ نظم ساتلو او د جرګې د غړو د فعالیت په اړه دي، او نه شي کولی له حقوقي پلوه ولسمشر ته کوم تکلیف وضع کړي. د ده په وینا، هر تقنیني سند د جغرافیې او اشخاصو له مخې پلی کېږي، چې د دغه سند جغرافیه ولسي جرګه ده او اشخاص یې د جرګې غړي دي. د اساسي قانون د ۶۴ مې مادې د ۱۱ مې فقرې له مخې ولسمشر واک لري، چې د ولسي جرګې په تایید وزیران وټاکي.

سعادت همدارازوایي، چې له زماني پلوه ولسي جرګه نوې شوې ده او له قانوني پلوه درد شویو کسانو بیا جرګې ته پېژندل ستونزه نه لري.

د ده په وینا، جرګې د کاندید وزیر معرفي کېدل او د اعتماد د رایې نه ترلاسه کول په جرم محکومېدل نه دي او دا په دې مانا نه ده، چې هغوی نور هېڅکله دې څوکۍ ته بیا نه شي کاندیدای. خو هغه زیاته کړه: ((سیاسي اخلاق داسې حکم کوي، چې که یو څوک د ولس د استازو د اعتماد وړ و نه ګرځېد، که رییس جمهور دویم ځل دغه کسان ور معرفي کوي، دا په دې مانا ده، چې د جرګې وخت ضایع کول دي.)) حقوقي کارپوه او د ولسي جرګې پخوانی غړی عبدالکبیر رنجبر وایي، چې د ولسي جرګې د کورنیو دندو د اصولو له مخې که کاندیدوزیر له ولسي جرګې د باور رایه وانه خلي، ولسمشر د جرګې په هماغه دوره کې نه شي کولی، رد شوی کاندید په هماغه پست کې بیا جرګې ته ور وپېژني.

ده ده په اند، اوس چې جرګې نوې شوې، ولسمشر کولی شي د تېرې دورې رد شوي کاندید وزیران د باور رایې ترلاسه کولو لپاره بیا جرګې ته ور وپېژني او جرګه رایه ورکړي.

ولسي جرګې ته په معرفي شوو نهو تنو کې پنځه یې هغه کسان دي، چې له تېرو شاوخوا دوو کلونو راهیسې د سرپرست وزیرانو په توګه کار کوي او بېرته د همدغو وزارتونو د کاندید وزیرانو په توګه معرفي شوي دي. دغه کسان په داسې حال کې د شاوخوا دوو کلونو لپاره د سرپرستانو په توګه پاتې شوي، چې د ولسي جرګې له خوا د سرپرستۍ د تصویب شوي قانون له مخې سرپرست وزیر له یوې میاشتې څخه زیاته موده د سرپرست په توګه دنده نه شي ترسره کولای. له یادو نهو کسانو څخه دلوړو زده کړو وزارت لپاره معرفي شوی کاندید عبیدالله عبید دغه مهال په ایران کې سفیر دی او ویس برمک د کلیو د پراختیا وزارت د مرستیال په توګه دنده ترسره کوي، چې اوس د دغه وزارت لپاره د کاندید وزیر په توګه وړاندیز شوی دی.

یوه جعلي سناتور د...

باید دا شخص ونیسي: «په مشرانو جرګه کې د محمداصف سرحدي په نامه نه انتصابي او نه انتخابي غړی شته، دا د کندهار د ولایت بې کفایتي ده، د دې شخص تر شا خاماخا امنیتي مسایل شته، چې غواړیله اداره څخه امنیتي موارد تر لاسه، افشا یې کړي او یا یې کومې مرجع ته ورکړي، مونږ د کندهار له امنیتي ارګانونو غواړو، چې دا سړی ونیسي، ځکه چې دا سړی نه د غور دی او نه د مشرانو جرګه غړی دی.»

ویل کېږي، چې اصف سرحدي د کندهار په ولایت کې، ځان د مشرانو جرګې د دفاعي کمیسیون انتصابي غړی ښودلی.

لومړی یې له والي، بیا یې له امنیه قوماندان، په ځو ولسوالیو کې له ولسوالانو، د محبس له مسوول، زندانیانو او داسې نورو مهمو کسانو سره لیده کاته کړي دي، په بهلابهلا برخو کې یې ورځنۍ معلومات ترلاسه کړي او پښې یې سپکې کړې دي.

کارپوهان وایي، د کندهار له چارواکو سره د یو جعلي سناتور لیده کاته، د مسوولینو د بې کفایتۍ ننبې دي. د کورنیو چارو وزارت په دې هکله د موضوعاتو له ورکولو ډډه وکړه.

اراده با جوانان وعلاقه مندان

همکار دایمی روزنامه اراده محترم فیصل شریفی، در این هفته نیز ایمیل های شما را دریافت نمودیم به امید همکاری های دوامدار شما مضمون ارسالی تانرا که تحت عنوان" زندگی درفضای صلح خواست مردم افغانستان است" تحریر نموده بودید به چاپ میرسانیم. موفقیت و کامگاری برای تان تمنا می نماییم.

صلح یک واژه پسندیده برای تمام جهانیان به ویژه برای مردم افغانستان بوده وزندگی صلح آمیز برای همه روشنایی وترقی را درقبال دارد، ازدیدگاه دین اسلام کلمه صلح جایگاه خاصی داشته ودین اسلام خود دین وحدت، اخوت، برادری وخلاصه دین صلح وآشتی برای تمامی مردم است.

از آغاز حکومت مؤقت و انتقالی به این سو در زیر چتر صلح تا حد زیادی اوضاع کشوربهبود یافته بگونه مثال بازسازی درعرصه های مختلف؛ مانند: اعمار مجدد جاده ها، سرک ها، مکاتب، شفاخانه ها و سائر تأسیسات عام المنفعه صورت گرفته و همچنان زمینه بهتر آموزش برای اطفال و جوانان مساعد گردیده تا درآینده درپیشرفت وترقی کشورسهیم ومصدرخدمت جامعه شوند.

به هرصورت در طی ده سال گذشته گروه های وابسته به استخبارات کشور های مغرض به نام وشعارمقدس اسلام که هیچ گاه سازگاربا مکتب پرباراسلام نبوده با حملات وحشیانه انتحاری وانفجاری خون هزاران تن افراد ملکی و بی دفاع ما را ریختانده اند و همواره تلاش میورزند تا اختلافات مذهبی، لسانی، سمتی وقومی را میان مردم ما دامن بزنند تا به اهداف شوم وخصمانه شان نایل آیند اما خوشبختانه از اثرتلاش های نیروهای امنیتی ومتنفذین قومی زمینه آن را دولت ازطریق شورای عالی صلح مساعد کرده تا گروه های مسلح ازجنگ وبرادرکشی درکشوردست بردارشوند و به روند صلح یکجا شوند و مانند مردم عام درفضای صلح، آرامش وعاری ازخشونت به زنده گی محوله خویش ادامه دهند که از زمان ایجاد شورای عالی صلح به اینسو تعداد زیاد گروپ های مخالف دولت با سلاح های دست داشته خویش به روند صلح پیوسته اند و خواست مردم افغانستان اینست که مخالفین مسلح دولت پس ازاین دیگرفریب وگول بیگانگان را نخورده و ازجنگ دوری جسته وبه روند صلح بپیوندند.

پس برملت افغانستان لازمی است تا وحدت ملی را حفظ کرده و ازماجراجویی های که دشمنان صلح و ثبات درکشوردامن میزنند آگاه شده متعهد ویکپارچه درمقابل آن ایستاده گی نمایند ونگذارند تا آنان بیش ازاین خون هموطنان ما را بریزند و فضای این سرزمین غیور را به دود وآتش بکشانند باید دست به دست هم داده دربازسازی و ترقی کشور که و جیبه ایمانی وانسانی هرهموطن است اقدام جدی نمائیم وآنانی را که دشمنان جان مردم ومنافع علیای کشورما هستند اجازه ندهیم که به اهداف شوم وخصمانه شان دست یابند.

به منظوراینکه جنگ درافغانستان به پایان برسد مخالفین مسلح دولت افغانستان باید ازجنگ دست بردار شوند و زندگی صلح آمیز را در کنار دیگرهموطنان شان از نو آغاز کنند تا باشد کشور ما از نا امنی ها و بی ثباتی های دهه های گذشته که شهروندان افغان از آن خاطره های تلخ دارند، رهانیده شده و ملت ما بتواند در سایۀ صلح و امنیت زندگی توآم با رفاه و آسایش را به پیش ببرند.

همکار گرانقدر محترم زاهد حساس، بعد از یک مدت طولانی چشم ما به نامه شما روشن شد، امید است که لباس عافیت را در بر داشته باشید. اینک بخشی از مطلب ارسالی تانرا به زیور چاپ می آراییم. منتظر همکاری های بعدی تان هستیم. سعادتمند باشید.

ارگان امنیت ملی که یگانه سازمان کشفی و استخباراتی در ساختار نظام جمهوری اسلامی افغانستان می باشد و مسوولیت کشف، جلوگیری و توقف حملات انتحاری و انفجاری را در کشور به عهده دارد، مطابق به قانون اساسی و سایر قوانین نافذه کشور با متهمین جنایات ضد بشری رفتار نموده که همه فعالیت های آن مطابقت دارد با نورم های پذیرفته شدۀ ملی و بین المللی و همواره نهادهای حقوق بشری، وزارت عدلیۀ کشور و همچنان نهادهای مدنی از زندان های این سازمان ملی نظارت نموده و گزارشات خویش را در رسانه های جمعی کشور بازتاب داده اند. هر چند سازمان ملل متحد بعضی اوقات گزارش هایی را پخش و نشر می نماید؛ اما نهاد هایی که مسوول نظارت از زندان های کشور هستند، هیچگاهی از زندانیان محابس کشور شاکی نبوده و همیشه از رویۀ نیک مسوولین محابس ستایش نموده اند.

در ضمن این ارگان از اعتبار و اعتماد ویژۀ نزد شهروندان افغان برخوردار است که در این رابطه مقولۀ زیبایی را در سر زبان ها دارند و آن اینکه « افرادی که در این ارگان وظیفه انجام می دهند؛ دارای مغز سرد، قلب گرم و دست پاک هستند» که این ویژگی ها و مشخصه ها، ارگان امنیت ملی را نسبت به سایر ادارات تمایز داده و مقامات آنرا وادار می سازد تا وظایف خویش را به بهترین وجهه که همانا حفظ کرامت انسانی است انجام دهند.

همچنان دست آورد هایی که این ارگان در سال های اخیر داشته است، توانسته تا اعتماد مردم افغانستان را بیشتر از پیش به خود جلب نموده و ملت رنجدیده و ستمدیدۀ ما همکاری های بی شایبه شان را از آن اعلام نموده که واقعاً ستودنی می باشد.

در اخیر می خواهم به مردم هردم شهید کشورم این نکته را یاد آوری نمایم که ارگان امنیت ملی پیوسته خواهد کوشید تا آن اعتماد و اعتباری را که از جانب ملت خویش نصیب شده است، همیشه آنرا حفظ نموده و هیچگاهی برای دشمنان قسم خوردۀ شان این فرصت و مجال را نخواهد داد تا با راه اندازی تبلیغات سازمان یافته که بدون شک از جانب استخبارات کشور های همسایه راه اندازی می شود، افکار شان را تخریش نموده و بیش از این باعث ایجاد بدگمانی میان ملت ستمدیده و ارگان امنیت ملی شود.

آیا ایران و پاکستان شرکای مطمینی برای افغانستان خواهند بود؟

اسلام آباد میزبان کنفرانس سه جانبه با اشتراک روسای جمهور افغانستان و ایران می باشد. رییس جمهور کرزی و محمود احمدی نژاد رییس جمهور ایران در این کنفرانس شرکت کرده اند.

روسای جمهوری اسلامی ایران، پاکستان، افغانستان در پایان این کنفرانس که دیروز اختتام یافت، بیانیهٔ مشترکی را امضا کردند.

روسای جمهوری سه کشور در این اجلاس به بررسی مسایل و مشکلات منطقه یی و راه حل بیرون رفت از این مشکلات پرداختند.

روسای جمهوری سه کشور بلافاصله بعد از شرکت در اجلاس و امضای بیانیهٔ مشترک، با حضور در یک کنفرانس مطبوعاتی مشترک به سوالات تعدادی از خبرنگاران پاسخ دادند و نتایج اجلاس را تشریح کردند.

هدف این کنفرانس افزایش همکاری های امنیتی و بهبود روابط اقتصای میان سه کشور خوانده شده است. اما تحلیلگران به این باور اند، همسایه گان افغانستان روابط صادقانه با افغانستان نداشته و حکومت افغانستان باید در روابط خود با این همسایه گان محتاط باشد.

محمد صالح سلجوقی، نمایندهٔ هرات در ولسی جرگه می گوید: "هر اقدامی که افغانستان اتکا بر دو همسایه نماید، بدون شک منافع ملی ما تضمین نخواهد شد. تدویر این کنفرانس خوب است، به این شرطی که تمام وعده های مبنی بر همکاری های اقتصادی و امنیتی تحقق یابد".

نگرانی از ایجاد ایتلاف ضد امریکا:

این کنفرانس در حالی برگزار می شود که تحریم های اقتصادی غرب علیه ایران به شدت افزایش یافته است. نگرانی اصلی تحلیلگران افغانستان این است که دو کشور ایران و پاکستان برای ایجاد یک ایتلاف منطقه یی بر ضد امریکا تلاش دارند.

برخی به این باور اند، که ایران طالبان والقاعده را برغرب ترجیح می دهد؛ ایران یکی از منتقدان برجستهٔ حضور نیروهای امریکایی در افغانستان است و مقام های ایرانی در سفرهای شان به افغانستان آشکارا با این حضور مخالفت کرده اند.

روابط پاکستان با امریکا نیز تنش آلود است. تحلیلگران می گویند، سفر حنا ربانی به افغانستان و تدویر کنفرانس اسلام آباد تلاش هایی برای رهایی پاکستان از انزوا می باشد.

به باور سلجوقی در صورتی که افغانستان با همسایه گان خود به صورت قاطع برخورد نکند، کنفرانس اسلام آباد به ضرر افغانستان تمام خواهد شد: "هرگاه در این کنفرانس پاکستان برای منافع خود و ایران برای منافع خود چانه زنی کنند، حتما افغانستان ضرر خواهد کرد. لذا افغانستان از یک موضع قوی برای همگرایی منطقه ای باید تعهد بگیرد".

همسایه گانی که شورشیان را تقویت می کنند:

خلیل احمد شهید زاده، دیگر نمایندهٔ ولسی جرگه به این نظر است که ایران و پاکستان در یک دههٔ اخیر همواره گروه های شورشی مخالف حکومت را تقویت کرده و به بی ثباتی و ناآرامی افغانستان تلاش کرده اند.

شهید زاده می گوید، در سه دههٔ اخیر افغانستان بیشترین صدمه را از همسایه گان خود دیده است و هردو کشور همسایه خواستار یک افغانستان ضعیف هستند.

او می افزاید: "فعلا طالبان کمپ هایی در ایران دارند. این ها فقط منافع خود را می خواهند. ما باید از همسایه گان گله مند باشیم. آنها فقط یک افغانستان ضعیف می خواهند که توانایی دفاع از خود را نداشته باشد".

در همین حال گفته می شود، رییس جمهور کرزی در سفر خود به اسلام آباد برای ارتباط با سران گروه طالبان تلاش خواهد کرد و از پاکستان خواهد خواست، تا این زمینه را برای او فراهم کند.

پیشنهاد مناقصه

سفارت پاکستان مقیم کابل پیشنهادات مناقصه را از کمپنی های مشهور برای تهیه ۱۰۰ پایه کمپیوتر مکمل الاسباب با سایر وسایل لازمی اش مطابق به مشخصات ذیل می پذیرد:

کمپیوتر دسک تاپ I-۵ و Intel Core I–۷

همراه با وسایل مکمل ضروری اش، لوازم فرعی و نرم افزارهمراه با پرینتر لیزرجت HP ۱۳۰۰ ویا مدل موافق (سیاه و سفید) و UPS

پیشنهاد ها باید در مدت ۲۰ روز بعد از نشر این اعلان به سفارت پاکستان واقع در کارته پروان تقدیم گردد.

سفارت پاکستان حق مسلم خود میداند تا هر یک از پیشنهادات مناقصه را بدون ارایه کدام دلیلی، قبول و یا رد نماید.

ریس دفتر تحریرات

سفارت پاکستان– کابل

۱۵ فبروری ۲۰۱۲

شماره تماس: ۲۲۰۲۷۴۵/۴۶–۲۰

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

برخورد مسلحانه: اشخاص حمایت شده باید در همه حال به یک نیروی حمایت کننده (یک کشور بیطرف که حامی منافع آنها باشد) یا ICRC و یا یک سازمان بشری بیطرف دیگر دسترسی داشته باشند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴–
Farhatyarm@yahoo.com
معاون: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵–
Khadem.kabul@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶–
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Farhat yar
Editor: Khadem Ahmad
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com